DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۹۴
شماره مسلسل ۹۶۱
یکشنبه ۲۸ حوت ۱۳۸۴هش
۱۸صفرالمظفر ۱۴۲۷ هـ ق
19 March, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

دبهرنیومرودلیږد پرمهال ۹ تنه پولیس وژل شوي دي

پرون هغه مهال ۹ تنه دولتی پولیس مړه او ۳ تنه ټپیان شول ، چې د قندهار دمیوند ولسوالی له یوې غرنی سیمې څخه یې د ځلور تنووژل شویو بهرنیانو مړی لیږدول په قندهار کې چارواکو ویلي د پولیسو موټر چې د وژل شویو دریو تنو البانیانو او یو جرمنی جنازی یې لیږدولی د لاري په اوږدو کې پر بمی چاودنه وشوه دغه ځلورتنه بهرنیان چې د یوې جرمنی موسسې له پاره یې په هیواد کې کار کوو تیره شنبه دهلمند د ګرشک په ولسوالی کې وتښتول شول. دغه بهرنیان طالب اورپکو وژلی او مړی یې دهلمنداو قندهار ترمینځ په پرته سیمه کې پیدا شوي دي. چارواکی وایي ددغو بهرنیانو مړی اوس مهال کابل ته لیږدول شوي دي.

دوه طالبان مړه او دوه پولیس ټپیان شول



په نمیروز ولایت کې د حکومتی سرتیرو او اورپکو ترمنځ په یوې نښته کې دوه طالب اوپکی وژل شوی دی. ددغه ولایت امنیتی چارواکي وایی چې دوه تنه پولیس هم ټپیان شوی دی ددرملنې په موخه د زرنج روغتون ته لیږدول شوی دی. ۴مخ

سرمقاله

ولې دولت دلاسجو ډکې دعوې نه حلوي؟

دهیواد دنوی اساسی قانون له مخې کانونه. خمکې لاندې طبعی منابع او لرغونی اثار ددولت ملکیت بلل کیږي...

د اساسی قانون له پورتنی مادې څخه څرګندیږي چې دهیواد په بیلابیلو ولایاتو کې پراخې دښتې اوځنګلونه په داسې ډول پاتې شوی دی چې په اساسی قانون کې یې دملکیت په هکله څرګندونې نه دی شوی.

همدا وجه ده چې دهیواد په بیلابیلو سیمو کې دوچو دښتو او ځنګلونو په سرد قومونو او سیمو ترمنځه شخړې او جګړې رامنځته، د مړینې، ژوبلو او کورونو ته د اور اچولو سبب شوی دی چې په ننګرهار، خوست، پکتیا او دهیواد په نورو ولایاتو کې او دادی اوس دلوګر په ولایت کې دقومونو ترمنځ د نښتو او وژنو یادونه کولای شو.

تیر کال نه په ولایاتو کې بلکې دهیواد په زړه کابل کې دښتاک لویدیزه لویه پراخه دښته باندې ځلورو قومونو ترمنځ په خپل سر وویشل شوه هڅې داسې ګرندی شوې چې کابل ښاروالی اود ښار جوړولو وزارت په شته والی سره سره دښتاک دښته له خپل سروو خیمو څه ډکه شوه.

هر چا له ښاری نقشې پرته ځانونه ته په لسونو نمرې ونیولې

دا هر څه ددې مانا لري چې دولت نه غواړی د سلطانی دښتو او ځنګلونو څښتنان معلوم کړی بلکې په یوه مجهوله حالت کې یې پریښی دی او په دې کار سره دقومونو او کورنیو تر منځ د وسله والو نښتو زمینه برابریږي او په دې نښتو کې دځوانانو او مشرانو دوژنې او ژوبلې سببونه رامنځ ته کیږي.

دا نښتې په داسې وخت کې رامنځ ته کیږي چې دهیواد په ټولو سیمو کې کورونه له خفیفو وسلو ډک دی او درنې وسلې هم خال خال ددې نښتو لپاره ساتل شوی دی که چیرې دولت ددې دښتو او ځنګلونو د څښتنانو دتثبیت په برخه کې اقدام ونه کړی دزیات او پراخه اور د بلیدو اشاره ورکولای شي.

اوس چې په هیواد کې ملی شورا رامنځته شوی باید زمونږ دهیواد په دغو نازکو شرایطو کې چې دښمن هم له وخت څخه استفاده کوی دهیواد د نورو قوانینو دمنظورولو په وخت کې ددې لاسجمنو سیمو، دښتو او ځنګلونو په برخه کې هم قانونی اجراات وکړی چې په راتلونکی کې ددې نښتو ژوبلو او وژلو مخه ونیول شي.

او هر چاته خپل حقوق معلوم او دقانون تر سیوری لاندې راشي.

بازداشت دوتن به اتهام فروش غیر قانونی پاسپورت

دو تن به اتهام فروش غیر قانونی پاسپورت توسط پولیس ریاست مبارزه با تروریزم وزارت امور داخله باز داشت شده اند. مسوول دفتر مطبوعاتی این ریاست میگوید که بیشتر از ۹۰ جلد پاسپورت سفید از نزد این افراد بدست امده

به آتش کشیدن یک باب مکتب

افراد مسلح ناشناس یک مکتب را در مرکز ولایت لغمان به اتش کشیدند. رئیس معارف ولایت لغمان گفت که درین رویداد اداره مکتب و تحویلخانه مکتب ویران شده اند.

در جریان سال روان بیش از ۲۰ مکتب در سراسر افغانستان به اتش کشیده شده است در تازه ترین مورد یک مکتب در منطقه مشروخیل ولایت لغمان سوختانده شد. به گفته اسیر الدین هوتک رئیس معارف این ولایت به اتهام این رویداد تاکنون کسی باز داشت نشده است و در مورد این رویداد تحقیقات اغاز شده است.

به گفته اقای هوتک این سومین مکتب در سه ماه اخیر است که در ولایت لغمان اتش زده میشود

په خوست کې دوسلو زیرمتون کشف او ونیول شو

دخوست دامنیتی قوماندانی ځواکونو دیو لړ بیړنیو عملیاتو په ترڅ کې چې د خوست ښار څخه ۵۰ کیلو متره شمال لور ته دمنګل او دموسی خیل دولسوالی دسپرې کلی په یوه شخصی کور باندې ترسره شول ۴مخ



د غزني پخوانی والي و وژل شو

د مجاهدینو یو مشهور قوماندان قاري بابا چې اصلي نوم یې تاج محمد دی او د برهان الدین رباني په واکمنۍ کې د غزني والي و، پرون له خپلو دریو ساتونکو سره له اندړو ولسوالی نه د غزني ښارته د تګ پر مهال ویشتل شوی او وژل شوی دی.

چارواکي وایي چې بریدکوونکي تښتېدلي، خو لټون یې روان دی. په یوه بله پېښه کې د غزني اوسنی والي شهرعلم له یوه پټ برید نه ژوندی وتلی دی.

ښاغلي شهرعلم بي بي سي ته وویل چې له ناوې ولسوالی نه د ستنېدو پر مهال د طالبانو له کمین سره مخامخ شو، چې په متقابلو ډزو کې د هغوی د لوري دوه تنه ووژل شول او دی ژوندی ووت

طالبان:
نیروهای خارجی توانایی تامین امنیت را ندارند

طالبان ادعا دارند که نیروهای خارجی توانایی تامین امنیت را در کشور ندارند مولوی ثناءالله عابد یکی از فرماندهان طالب در ولایت هلمند به تلویزیون طلوع گفت که نیروهای خارجی برای رسیدن به اهداف شان به افغانستان آمده اند. وی افزود که به آمدن نیروهای امریکایی در افغانستان افرادی به قدرت رسیدند ص۴

بازداشت سه تن به اتهام بمب گذاری

مقامات پاکستانی از بازداشت سه تن به اتهام بمب گذاری در یکی از مدرسه های پاکستان خبر دادند. این مدرسه که به جلال الدین حقانی یکی از فرماندهان طالبان تعلق داشت هفته پیش مورد حمله قرار گرفت. وزیرستان شمالی که به گفته مقامات پاکستانی و امریکایی محل اموزش افراد طالبان است ص۴

په ننګرهار کې ډګوګنارو د له منځه وړلو لړی روانه ده

خو ورځې کیږي چې په ننګرهار کې د کوکنارو کښت له منځه وړل کیږي. له ننګرهار څخه په رپورټونو کې ویل کیږي چې دننګرهار ولایت په بیلابیلو سیمو او ولسوالیو کې لږ تر لږه ۵۰۰ جریبه او لاتر دې زیاته دکوکنارو له کر څخه پاکه شوې ده.



داسې ویل کیږي چې دغه لړی په نورو ولسوالیو کې هم روانه ده اوخلک دې ته حاضر شوی دی چې په خپله خوښه کوکنار واړوی په داسې حال کې چې تیر کال هم دننګرهار په ولسوالی کې کوکنار نه وو کرل شوی خو په نورو ولایاتو کې یې کر شوی و.

چاروا کی دخلکو ترمنځ

خاپلـه

یـوه ټولنـه هغـه وخـت لـه پرتـو خنډو او اختلافونـو تیریـدلی شـی چـې پـه خپلـه د واقعیتونـو پـه لیـدلو او اوریـدلو د هیـواد د برخلیـك پـه هکله سم او عادلانه فکر وکـړي او لـه خپلـو شخصی اختلافـاتو څخه چې د خلکـو او ټولنی د سوځیدلو زمینه برابروی تیـر شـي خـو بـدبختی داده چې زمونږ په ټولنه کـې تـل مسـوولینو ځانونـه لـه خلکـو څخـه لیـری او یـا لـوړ بـولی همـدا وجـه ده چـې د خلکـو ټولنی او دولـت ترمنځ زیاتـه بـی بـاوری رامنځته شوی ده.

زمـونږ اکثـره والیـان د خپلو ولایتونو په څوکیـو کـې ناست او لـه خلکـو سره یـې ارتباطات ډیر کم تر سترګو کیږي او که چیری ځینی وخت د کـومی ولسـوالی لـه اوسیدونکو سره ګوری نو په هغو کې ټول هغه کسـان وی چـې دخپلـو سیمو عـام اوسیدونکی په کـې نـه وي او مشـران هغـه څـه وایـي یـا دهغـه څـه پیشـنهادونه وړانـدی کوی چې خپلی ګټی یـي پـه کـې مطـرح وی لاړمـه داده چـې د مشـرانو ارتبـاط لـه خلکـو سره زیـات شـی ورتـه ورشـی ورسره وګوری د هغـو لـه سـتونزو ځـان خبـر کـړی عملاً د هغوی سـتونزی لیری کړی او خلك پدی قـانع شـی چـې واقعـاً دا دولت د خلکو دولت دی او مسـوولین د خلکـو لـه سـتونزو ځـان خبـروی اودغـه راز هغـه پټـی عقدی چې له خلکو سره وی هغه هم د مسـوولینو پـه ورتـګ او دهغوی پـه صـادقانه وینـا سـره لـه منځه ځی.

تیره اونـی د دولـت سـلا کـار وزیـر او د ننګرهـار ولایـت والـی ګـل اغـا شـیرزوی د ولایـت مرسـتیال داکتـر محمـد اصـف قاضـی زاده د امنیـی قومانـدان عبدالبصیر سـالنګی د امنیت امر د ننګرهار د د شیرزادو ولسـوالی تـه ورغلـی وو هلتـه یـې پـه هغـه غونډه کـې ګډون وکـړ چـې د مشـرانو پـه ګډون عامـه ولسـی خلك او شـاګردان موجـود وو د طالبـانو هغـه پخـوانی غـړی چـې اوس یـې د دولـت اوامـر منلـی موجود دی موجودوو.

د دغی غونډی په جریـان کـې د هغـی ولسـوالی د ښـوونځی لـه سـتونزو سربیره د بیا جوړولو پـه برخـه کـې د مشـرانو لـه جلال اباد کې یې کارونه چې بل ځل دلته راځم نو ټوپك په راسره نه وی او تاسی هم او له تاسو هم هیلـه لـرم چـې ټوپـك وغورځوی.

د وطن د ابادی په فکر کې شی. د هغی غونډی یو ګډون کوونکی لالمر وایی.:یره دا زمـوږ والی ښـه سړی دی ډیـر زړور دی هـر ځـای تـه ورځـی خلکـو سـره کینـی د خلکو مشکلات اوری په کارونـه بایـد پـه اداراتـو ژر اجراء شـی انشـاء الله کارونـه یـې روان کـړی دی خلك ورنـه خوشحالـه دی او خـدای دی وکـړی چـې تـل ورنـه خوشحالـه وی او ښـه یادګـاری نـوم پریـږدی. کـه چیـری د چارو مسـوولین د خلکـو منځته ورشی او دهغوی لـه سـتونزو ځانونـه خبـر کـړی او د اجراء پـه برخـه کـې ګامونـه پورتـه کـړی پـه یقیـن سره ویلای شـو چـې تـر زیـاتی انـدازی پـوری د خلکـو زړونـه تـر لاسـه کـولای شـی تیرکـال ولسمشـر حامـد کـرزی خپـل وزیران موظف کړی وو چـې ولایاتـو تـه لاړ شـی او د خلکـو سـتونزی ځانتـه معلومـی کـړی خـو کلـه چـې دغـه حرکـت پیـل شـو هغوی ولایاتـو تـه لاړل د ولایتونـو لـه مشـرانو سره یـې ولیدل اود ولایت د چارواکو پـه مخکـی خلکـو لـه ویـری د هغـو پـه نیمګړتیاوو خبـری کـولای نـه شـوی همـدا وجـه ده چـې هغـه تـګ د ټولوعـامو خلکـو پـوښتنی حـل نـه کـړای شـوی کـه چیـری زمـونږ وزیـران ولایـاتو کـې د خلکـو سـتونزی د مسـوولینو پـه غیاب کـې وپـوښتی او دغـه راز د ولایاتـو چارواکی لکـه د ننګرهار د والی په څیر مستقیماً له ویـری پرتـه د خلکـو منځ تـه ورشـی ولسـوالیو تـه او هغـو لیـری سیمـو تـه ورشـی بـاور دی چـې خلـك بـه ځانتـه رانږدی کړای شـی او تـر منځ واټـن بـه لـه منځـه لاړ شـی اولـس او مسـوولین بـه یـو واحـد لاس شی.

خـوا خبـری او پشـنهادونه وشـول د ننګرهـار مسـوولینو تـه یې لونګی پـه سرونـو کیښـودل شـوی خـو پـدی غونډی کـې د ننګرهـار د والـی خبـرو زیـاتی اغیـزی رامنځتـه کړي.

سـلاکار وزیـر او د ننګرهـار والـی وویـل تاسـو زوړور خلکـو یـو وخت توپك تـه لاس کړ او پـه جهـاد مـو لاس پـوری کـړ او روسـانو تـه مـو مـاتی ورکـړه او بیـا طالبـان راغلـل لاړل هغـه طالبان چې له مونږ سره یـو ځـای کیـږي زمـونږ وړونـه دی کـه دا وطـن پـه مونږ حق لـری پـه طالبـانو بانـدی چـې ددی ځـای اوسیدونکی دی هم حق لـری دا وطـن پـه مـونږ او تاسو ټولو حق لری .

دا وطـن تاسـو جوړوی او کـه یـې ورانـوی ! هغـو دا خبـری پـه سـوالیه انـداز کـې د اولـس غونډی تـه وکـړی. هغـه وویـل ۲۷ کالـه پـدی هیـواد کـې جنګونـه وشـول نـور خـو ټوپك تـه اړتیـا نشـته نـور بایـد توپـك وغورځـول شـی نـور د ابـادی او ودانولـو وخـت دی . زه کـې څـه کارونـه وکـړي راتـه وایـي:

زمـا نظر بـه څـه وی چـې پیشـنهاد وکـړم خـدای خبـر چـې والی صاحب بـه زمـا خبـری ومنـی خـو زه وایم چې باید د ننګرهار عواید ټول پـه امانـت ډول د هغـه چـا څخـه تـر لاسـه کـړی چـې پخـوا بـه یـې خپلـه خـوړل سرکونه دی پاخـه کـړی د رشوت مخ دی ونیسـی د خلکـو کارونـه بایـد پـه اداراتـو ژر اجراء شـی انشـاء الله کارونـه یـې روان کـړی دی خلك ورنـه خوشحالـه دی او خـدای دی وکـړی چـې تـل ورنـه خوشحالـه وی او ښـه یادګـاری نـوم پریـږدی. کـه چیـری د چارو مسـوولین د خلکـو منځته ورشی او دهغوی لـه سـتونزو ځانونـه خبـر کـړی او د اجراء پـه برخـه کـې ګامونـه پورتـه کـړی پـه یقیـن سره ویلای شـو چـې تـر زیـاتی انـدازی پـوری د خلکـو زړونـه تـر لاسـه کـولای شـی تیرکـال ولسمشـر حامـد کـرزی خپـل وزیران موظف کړی وو چـې ولایـاتو تـه لاړ شـی او د خلکـو سـتونزی د مسـوولینو پـه غیاب کـې وپـوښتی او دغـه راز د ولایاتـو چارواکی لکـه د ننګرهار د والی په څیر مستقیماً له ویـری پرتـه د خلکـو منځ تـه ورشـی ولسـوالیو تـه او هغـو لیـری سیمـو تـه ورشـی بـاور دی چـې خلـك بـه ځانتـه رانږدی کړای شـی او تـر منځ واټـن بـه لـه منځـه لاړ شـی اولـس او مسـوولین بـه یـو واحـد لاس شی.

تنازع مولفه های قدرت که مرکبه های سیاسی نخواهند داشت!

مولا داد سهیم

مفهوم مقوله مغلق ونامنتهای ابعاد محوری قدرت را نمیتوان به تعریف وتوصیف محاسبه وارزیابی نمود چه منابع عوامل بـروز ومنشـاء آن نـامرئی تصوری واشکار عملکردهـای آن متفاوت است ولی به میزان محاسبه دقیق سنجیده شده عملی فزیک میخانیک میتوان اذعـان نمـود کـه قـدرت جـز تحول انرژی فی واحـد زمـان هرگز نمیتواند مفهوم دیگری داشته باشـد و حرکـت متغیـر لحظـوی مـاده درمکـان ممثـل نوع مشخص قدرت به محـور مربـوط بـه آن اسـت وجهـان فاقد قـدرت درحالـت سـکون مشتق ناپذیر و روبه فنا خواهد بود به عباره دیگر وبه مفهـوم دیگر جهـان کیهـانی تنهـا بـه محصول قدرت اندیشه علمی وفزیکـی ملـت هـا قابـل دسترسـی تسـخیر ومحاسـبه وشـناخت اسـت . ولـی لـذت آفرین ونشه آورترین مفهـوم قدرت " قدرت سیاسی" میباشد که روی درامه سازی های طنز آمیز و ژست های زیـر کانـه فکـری وفزیکـی بـه مـوازات محـوری منفعـت پرسـتی هادرروابط چندی بعدی حیات ملی یـک جامعـه عیـار سازی میشود ولی ماهیت پیامد شیوه درونی عملکرد قدرت سیاسی بنظر وبدیل وممثل هر قـدرت دیگـر در دو مسـیر متضـاد دارای مشخصـات زاویـه ذات البینی فاز یکصدوهشتاد درجه یـی علیـه یکـدیگر فعالیـت فزیکـی مـی نمایند،قـدرت استبدادی ارتجـاعی وحشـت آور وظالمانـه بیـداد گرانـه و سـرکو بگرانـه کـه مجمـوع ارزشهای علمی وحقوق انسانی ملهم از اندیشه ها وایدیولوژی های انحطاط گرای ما فیایی که آتـش بدسـت وشمشـیر بـه دندان ریشه ساقه وشاخه های ریزرفهـای ارزشـهای والا و بالقوه پیشرفت هـای علمـی و سعادت جامعـه بشـری را بـه آتـش کشـیده وبـه نـابودی مواجه میسازد وقـدرت بالنـده وعـدالت پسـندانه ودیموکراتیـک انسـان پـروروعلم پـرور سیاسـی کـه صـلح عـدالت آزادی دیموکراسی واحترام عمیق بـه تمامی عناصر ارزشهای حقوق انسـانی را یگانـه راه ومسـیر پیشرفتهای علمی برای ملت میهن تاریخ فرهنـگ وجامعـه مدنی مربوط به خود ارزیـابی مینمایند.

درسرشـت سیسـتم سـاختاربافت قـدرت سیاسـی حامـل ومحـرک تعـاملات ناهمگون حاکم بر روال حیات چندین جانبه پلورالیزم سیاسی دارای ضرایب متفـاوت میلان معطـوف بـه احـراز قـدرت وحرکت به مدار ستراتیژیک اهداف ملی سه محور تمایلات فزیکـی را میتـوان مشـخص نمود ودرحرکت به مـدار سـه بعدی سه گـرایش قـدرت در محور تنازع نامتجـانس مولفـه های متضاد اختلاط ناپذیر کـه حتی مرکبه های سازنده سیاسی نیـز نخواهنـد داشـت درختثـی سازی ونابود سازی فعالیت های یک دیگر درتقلا اند.

(۱) قـدرت سیاسـی منـوط ووابسته به نیروهای است که به رسانه دیموکراسی آزادی عقیده وبیـان حقـوق وآزادی هـای سـرحد ناپـذیر دیموکراتیک زنان میتازنـد و میخواهنـد کـه کشـور عقـب مانـده وزخـم خـورده را بـه دیگ بخار سرپوش دار مبدل وسربسته کشور را به شبهای تـار ظلمـت آفـرین ضـد پیشرفت مبدل سازند. اینها متکـی بـه خرافـات حـامی وپیروی جهان بینی های غیر علمی بوده ارتباطات ملت بـا جهـان پیشـرفته را حـرام ودشمن فرهنگ سنتی تلقی می نمایند ولی با یقین وبـاور کامـل کـه آخرالامـر ایـن نیروهـای روبـزوال بـوده بـه مرور گذشت زمان سرنگون ونابود خواهند شد .

(۲) نیروهای باورمنـد حـامی وپیروی سیاست اقتصاد بازار آزاد کـه بـا فرهنـگ عالیـه بالنـده وعلـم پرورانـه اش میخواهنـد جامعـه وکشـور را بـه مـوازات پیشـرفت هـای علمی جامعه جهانی با رعایت کامل ارزشهای حقوق وآزادی های کامل و مشـروع انسـانی بـه تسـخیر قلـه هـای شـامخ افتخارآت علمـی نایـل گـردد پلورالیزم عقیده یی سیاسی و شیوه هـای لیبرالیـزم سـرواز دیموکراتیـک دارای مشخصـات ممـثلات جهـان پیشـرفته را معیـاروملاک عملکردهـای فـ درت رو شـگرانه سیاسـی خـود بـ. میبرند.

(۳) نیروهـای چـپ دیموکراتیک متیقن وباورمند به ساختار قدرت سیاسی تک حزبی وایجاد اقتصاد متمرکـز ملی این نیروها باور دارند که تضـادهای نـامتوازن وآشـتی ناپذیر طبقاتی درجامعه ناشی از روابط غیر عادلانه اقتصادی اجتماعی میباشد و قلمداد می نماینـد کـه بـدون موجودیـت دیموکراسـی اقتصـادی دیموکراسـی بـی آب ونـان منزل سیاسی نوع اقتصاد بـازار آزاد نمیتوانـد ارزش ملـی اجتماعی داشته باشـد واذعـان میدارند که باید همه ارزشهای ملـی وعایـداتی طـور مسـاویانه ازمجـرای حاکمیـت دولتـی بـه مردم عرضه شود تاملت بتواند به شکل موزون مفت ورایگـان ازمزایـای تحصـیل وخـدمات اجتماعی بهره مند باشند. بلی بادر نظرداشت نتایج حاصله از ارزیـابی هـای فـوق الـذکر درصورت عدم سازش کشور سـه گانـه قـدرت در ایجـاد ترکیب محصله های وحـدت کشور تا مدت های دیگـر نیـز درآتـش بحـران تـنش هـای سـیطره گرایـی قـدرت انحصاری خواهد سوخت . ولی راه حـل مشـکلات ومسـیر بیرون رفت از محور تصادمات ایـن است کـه بـه حیث یـک ملـت بـا اسـتفاده از هرگونـه امکانـات ملـی وجهـانی خـود زمینه ساز تعامـل مولفـه هـای قـدرت بـه خـواص همسـو گرایانـه ترکیبـی مقـاوم و غیـر قابل تجزیه درسیستم ساختار محور سه بعـدی وحـدت ملـی خود باشند.

متصدی: ناصر بشر

راتلونکی د خوانانو ده

سندر غاړې نغمه د نوي کال په ویاړ هیواد ته ستنه شوې

د هیواد وتلې نومیالی سندر غاړې نغمه له یوې نیمې لسیزې جلا وطنۍ څخه وروسته یو ځل بیا خپل هیواد ته راورسیده.

نومورې د یو کنسرټ لپاره په کابل کې د اریانا د خصوصي ټلویزیون او د بیات د مرستندویه ټولنې له خوا رابلل شوې ده دا کنسرټ به د نوي لمریز کال په ویاړ د کابل په ساپي لنډ مارک هوټل کې ترسره شي

د آریانا ټلویزیون یوه چارواکي سخي بریالي، وویل چې په دې کنسرټ کې به د هیواد یو بل سندر غاړې نعیم پوپل هم ونډه ولري چې له کلونو جلا وطنۍ څخه څو ورځې وړاندې کابل ته راورسید د آریانا د ټلویزیون چارواکو وویل چې دا کنسرټ سوداګریزه بڼه نه لري او ټکټونه یې په هیڅ ډول نه پلورل کیږي.

سخي بریالي وویل چې د نومیالی سندر غاړې نغمې له بلنې څخه د دوی موخه داده چې د هیواد بهر میشتي هنروال وهڅوي چې خپل هیواد ته راستانه شي او وښیي چې په هیواد کې امنیتي حالت هومره خراب نه دی څومره چې یې په بهر کې فکر کیږي

ده ددغه کنسرټ ګډون وال د هیواد فرهنګي ټبرې او د رسنیو چارواکي وبلل او ټینګار یې وکړ چې په دغه ډله خلکو کې به هغه چا ته ددې کنسرټ بلنلیکونه په وړیا توګه ویشل کیږي چې د بیات ټولنه او د آریانا ټلویزون یې وغواړي تا کل شوې ده چې نغمه د شنبې په ورځ د خبریالانو ومنله چې ددې ټلویزیون لاړې سینمایي فعالیتونه هم زیات کړي او د هیواد د سینما هغه ستوري چې په بهر کې ژوند کوي، د بیرته راستنېدو لاره اواره کړي ده وویل په پام کې لري چې نوي ټلویزیوني ننداري او سریالونه جوړ کړي او دا شوني کړي چې د آریانا ټلویزیون په هیواد کې د فلمي صنعت پر یو مرکز واړوي.

ښاغلي نظري وویل چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د افغان هنروالو راټولول سخت کار دی ده په هیواد کې خپل احساس له مینې او یووالي څخه ډک وباله او ویې ویل چې نه غواړي داسې فلمونه یا ټلویزیوني نندارې جوړې کړي چې په هغې کې د جګړو او تاوتریخوالي انځور ډیر وي

د هیواد دغو بهر میشتو هنرمندانوش وویل چې دوی ته ظاهرا داسې څه په نظر نه ورځي چې د اندیښنې وړ وي. د واحد نظري د کونډې ځوی په نامه یو سریال د افغانانو ترمنځ ډیر مشهور دی

واحد نظري له ۱۳۶۱ لمریز کال را هیسې د ډایریکټر په توګه لو مړی په ټلویزیون او بیا په افغان فلم کې په کار بوخت شو

د افغان فلم د ریس په توګه یې هم دنده ترسره کړې ده

دطالبانو له پرزېدو وروسته په هیواد کې رسنیزو فعالیتونو ډیر پرمختګ وکړ په دې لړ کې څو ټلویزوني چینلونه هم رامنځته شول تر منځ یې د آریانا ټلویزیوني چینل نړیوالې بڼه غوره کړې ده.

د آسیا یې هیوادونو تر څنګ یې په اروپا کې هم خپلې خپرونې پیل کړې دي. د ټلویزیون چارواکو وویل چې په راتلونکو درې اونیو کې به په اروپا کې هم خپرونې پیل کړي آریانا ټلویزیون خصوصي شبکې د تیر میلادي کال په لومړیو کې په هیواد کې خپرونې پیل کړې



څنګه کولای شو د عقدو دانکشاف مخه ونیسو

عقده، زور زیاتی او جګړې په هغو ټولنو کې زیاتې وی چې وروسته پاتې وی او په تیره بیا هغه سیمې او ټولنې چې اوږدو جګړو ځپلې وی او زمونږ ټولنه هم یوه داسې ټولنه ده چې هم په کې جګړې تېرې شوی دی او هم د نړۍ دوروسته پاتې هیوادونو په وروستۍ قطار کې دریدلی ده دوروسته پاتې ټولنو له خانګړتیاوو څخه یوه داوی چې هلته دتعلیم پله کمزورې وی هلته بیکاری او اقتصادی ستونزې موجودې وی. بیکاری اواقتصادی ستونزې پخپله د ټولنو د اوسیدونکو ترمنځ د عقدو، زور زیاتی او جګړو درامنځته کولو لپاره زمینه برابروی.

په وروسته پاتو ټولنو کې زیاتره عقدې او زور زیاتی دځمکو، ښځو. او ماشومانو په سر رازیږېدې خو که چیرې په لومړی پیل دغو مخه ونه نیول شي د وخت په تیریدو سره دخشونت او زور زیاتی له پاره زمینه برابریږي او که چیرې دزور زیاتی او خشونت په وخت مخه ونه نیول شي په جګړو بدلیږي او جګړې دهیواد او خلکو دتباهۍ سبب کیږي اوپه داسې جګړو کې دځوانانو مرګ او وژل کیدل نه یوازې دکورنیو لپاره تراژیدی ده د غمجنو ورځو شیبې دی بلکه د ځوانانو له منځه تلل او یا خو په جګړو کې دځوانانو بې سواده پاتې کیدل دټولنې لپاره ستر زیانونه ځکه دی چې ټولنه په راتلونکی کې له پوهو او مسلکی کادرونو څخه پاتې کیږي.

زمونږ ټولنه چې یوه وروسته پاتې ټولنه ده او اوږدې جګړې هم په کې تیری شوی دی نو زمونږ په ټولنه کې د اشخاصو، کورنیو او قومونو ترمنځ یې زیاتې عقدې رامنځته کړې دی او زیاتې عقدې په زور زیاتی او جګړو هم بدلی شوی دی چې مونږ یې په هیواد کې زیاتی بیلګې لیدلی دی او اوس هم په تیت پرک ډول زیاتې بیلګې لیدلای شو او ددغو انکشافی عقدو دشته والی له املې زیات هیوادوال له منځه تللی دی خو اصلی خبره داده چې څنګه کولای شو په لومړی پیل کې دعقدو مخه ونیسو اویا خو رامنځته شوی عقدې پای ته ورسوو چې په زور زیاتی او خشونت او بالاخره په جګړو وانه وړی ځکه چې ددې ناوړه او خرابو حرکتونو په شته والی کې اکثره ځوانان ځکه مړی چې ځوانان دپېښې درامنځته کیدو په وخت کې صبر او حوصله ژر له لاسه ورکوی.

باید په لومړی پیل کې دعقدې درامنځته کیدو مخه ونیسو او که رامنځته شی څنګه یې دانکشاف مخه ونیسو عقدې هیڅکله پخپله د دوو نفرو ترمنځ یا خواوو ترمنځ نه حل کیږي بلکې دریم صالح شخص ته اړتیا لري چې باید په لومړی پیل کې دعقدو زور زیاتی او جګړو په برخه کې ددواړو دنظر معلومولو څخه وروسته دیو عادلانه ټول په کولو سره دعقدې داواری په برخه کې مرسته وکړی خو په داسې حل کې باید دریم شخص ددواړو خواوو لپاره د منلو وړ وی چې داختلافونو په حل کې لومړنی شرط بلل کیږي. داسې فیصله وکړی چې ددواړو خواوو لپاره دقناعت وړ وی.

او دا پریکړه په دې ډول وکړی چې نه سیخ وسوځی او نه کباب.یاني دعقدو زور زیاتی اوجګړو په برخه کې ددواړو لوریو ترمنځ دصلح درامنځته کولو په خاطر سالمې او عادلانه پریکړې چې په حقیقت کې دهر لورې ګټې په کې غښتلی وی دصلحې فضا رامنځته کولای شي.

که چیرې دریم ډ ګړی دسولې په خاطر دخپل عادلانه حل لاره خپله کړی هیڅ وخت عقده دزور زیاتی او جګړو په لورې حرکت نشی کولای.

دجګړو ددواړو خواوو تقاضا کله کله ډیره لوړه وی او تېرې تیریدلی هم نشی نو په داسې حالاتو کې یوازې دریم ګړی کولای شي دمنازعې یا جګړې دحل اصول او لارې چارې په پام کې ونیسی او دواړو لورې ددریمو اشخاصو په وینا او دهغوی په عادلانه پریکړه له خپلو اختلافونو څخه تیر شی او ددریم ګړو په پریکړو یې قناعت حاصل شي.

د ژوند خبری!

عبدالطیف "منت یار"

که تیرو ته د هیرولو سرو څو و خو نن باید تر ژوری مطالعې لاندی ونیول شی او دا محاسبه باید ځان سره داسی وشی چې په تیرو وختونو کې مو څه کړی څومره ستونزی زمونږ په وړاندی پرتی وی او یاد څومره ناخوالو سره مخامخ شوی یو.

د نن او پرون وختونه د ژوندانه د اړتیاوو سره جوخته اوږه لګولی شی هغه په دی معنی چې پرون خو د افغانانو په مخه کې د تذویر چل او دوکی دامونه ایښودل شوی او افغانی ژوند یې د زیاتو کړاوونو اندیښنو او ناامیدیو سره مخامخ کړی و کومی وعدی چې د دولت د چارواکو له خوا ددی غریب ملت سره شوی وی په خپل ځای ولاړی پاتی شوی او د عمل جامع یې هم نه ده اغوستی هغه دا من کار او د بیا ودانی په اړه چې نوم یې په زیاتړو خولو کې زمزمه کیدلو خو په عمل کې ونه لیدل شول.

همدغه وجه وه چې زیات وران کاری عملونه زمونږ هیواد ته راننوتل او په خپلو وران کارو عملونو یې زمونږ د زیاتړو هیوادوالو نه ژوند یوی محدودی مودی له پاره وتړل شوی او دافغانانو وقار د زیاترو په وړاندی څه نا څه راکښته غوندی شو. که څه هم افغانانو ته باید په دغه راز مواردو کې ګوت نیونه نه وای شوای خو دا چې په افغانستان کې هر ناروا عمل سرته ورسیږی نو له پرې نه یې افغانان هم بری الزمه نه شی پاتی کیدلای. کومی ناوړې پیښی چې د ګاونډیو هیوادو له خوا همدغه لامل دی چې نن ورځ زمونږ بې شمیره وطنوال دی ته اړ شوی چې له وطن نه پښې سپکی کړی او د یو کپ ډوډی له پاره نورو هیوادونو ته مخه وکړی.

خو نن باید د پرون هغه ترخی لحظی په تکراری توګه زمونږ په وطنوالو باندی تحمیل نه شی دا ځکه چې دوی څه ناڅه دیرش کاله د جګړو په بټ کې تیری کړی، فقر، بدبختی، لوږه او بیوزلی یې تیره کړی ده ګڼ شمیر شهیدان یې ورکړی.

له ډیرو دروازو نه ناامیده شوی او ډیرود روابطو په بازار کې د پښې د ایښودلو ځای هم نه دی پیدا کړی او په وړی لاس باندی د ژمی په ډیره سړه هوا کې یې په جونګړو او خیمو کې شپې تیری کړی دی.

نن چې د زیاتو کالونو نه وروسته دوی د حکومت خاوندان شوی د خلکو په خوښه جمهور رئیس انتخاب شوی پارلمان منځ ته راغلی ولسی مشورتی شوراګانی په فعالیت بختی دی نو د خلکو غوښتنی هم په پرونی معیار باندی نه شی پاتی کیدلی.

دوی په اوس وخت کې له امن او سولی ته سترګی په لاره دی. د وی د ظلم پرځای د عدالت او د چور پر ځای د باور، او د مرګ ژوبلی پر ځای ورورولی او محبت او د رشوت پر ځای، صله رحمی، او د بی سری او خپل سری پر ځای قانون او د غرض پر ځای مساوات ته لاری ځاری تر څو د دولت هر مسوول په افغانی اخلاقو باندی د خلکو غوښتنو ته خواب ووایی او د هیواد والو ټول ملی او وطنی ارمانونه دسولی او ثبات په موجودیت سره سرته ورسیږی.

د نن خبره ده چې هر څوک په هر ځای او هر موقف کې چې وی باید په ډیر صمیمیت او باور باندی ورته ځواب ووایی او په دی توګه په ټولو بی باوریو باندی د بطلان کرښه را کاږی.

پانی ورباندی ډکی شوی او په مورو خوارو یې د ناپوهی تاپه هم لګولی ده.

په دغه راز بی خوندیو کې که افغانانو ته د سر زیانونه وا وختل خو بیا هم د پرمخ تللی نړی په نزد یې نمبری هم کمی شوی او زیاترو اروپایی هیوادونو خپل خلك له افغانستان نه هم ایستلی دی د امنیت د نشتوالی لا امله بعضی ولایتونو کې د ملګرو ملتونو دفتری هم د زمونږ په هیواد را تپل شوی دی چې په اوس وخت کې له هغی نه د شادی زخم جوړ شوی چې د کابل نه نیولی د هیواد ټولو ولایتونو ترینه ازار موندلی او خلك د زیاتی ناهیلی سره مخامخ کړی هم دی.

په هیواد کې د بی روزګارو افغانانو زیاتوالی ددی سبب شوی چې بیا هم د مهاجرت ژوند د وطنی ژوند نه په زړه پوری وی او زمونږ په هیواد را تپل شوی دی چې په اوس وخت کې له هغی نه د شادی زخم جوړ شوی چې د کابل نه نیولی د هیواد ټولو ولایتونو ترینه ازار موندلی او خلك د زیاتی ناهیلی سره مخامخ کړی هم دی.

په هیواد کې د بی روزګارو افغانانو زیاتوالی ددی سبب شوی چې بیا هم د مهاجرت ژوند د وطنی ژوند نه په زړه پوری وی او

شورای امنیت درباره مناقشه هسته ای ایران بیانیه صادر می کند

نمایندگان ایالات متحده، بریتانیا و فرانسه در سازمان ملل متحد اظهار داشتند که اعضای شورای امنیت به زودی بیانیه ای درباره برنامه هسته ای ایران صادر می کنند.

پس از سومین اجلاس تمام اعضای شورای امنیت، ژان مارک دو لاسابلیر، نماینده فرانسه به خبرنگاران گفت که مذاکرات به زودی به نتیجه می رسد. فرانسه و بریتانیا پیش نویسی تهیه کرده اند که طبق آن از ایران دعوت می شود تمام فعالیت های هسته ای خود را متوقف سازد، و از آژانس بین المللی انرژی اتمی خواسته می شود که ظرف دو هفته نتیجه را اعلام کند. دیپلماتهای ایالات متحده، فرانسه و بریتانیا تلاش فراوانی کردند که تمام اعضا را قانع کنند تا از ایران خواسته شود همه فعالیت های اتمی خود را متوقف سازد. به نظر می رسد که آنها پس از گفتگو با تمام اعضای شورای امنیت به هدف خود رسیده اند. به گزارش سوزانا پرایس، خبرنگار بی بی سی در سازمان ملل، جان بولتون نماینده آمریکا در سازمان ملل گفته است که در گفتگوها بیشتر اعضا هم عقیده بودند، اما چند نماینده مایل بودند که پیش نویس را با دولتهای خود در میان بگذارند. یکی از مسائل مورد اختلاف این بوده است که از آژانس بین المللی انرژی اتمی وابسته به سازمان ملل متحد خواسته می شود که ظرف دو هفته به شورای امنیت گزارش بدهد که آیا ایران تقاضای شورای امنیت را اجابت می کند یا خیر. نماینده چین عقیده داشته است که مهلت زمانی باید ۴ تا ۶ هفته باشد. نماینده روسیه نیز بر آن بوده است که موضوع را باید به آژانس بین المللی انرژی هسته ای واگذار کرد. به گفته امایر جونز پری، نماینده بریتانیا در سازمان ملل متحد، طرف های مذاکره کننده از انعطاف کافی برخوردار بودند، اما قصد داشتند هر چه زودتر متنی تهیه شود.

قطعنامه نهایی باید به تصویب تمام اعضای شورای امنیت برسد. روز دوشنبه مقامات بلندپایه پنج عضو دایمی شورای امنیت (بریتانیا، آمریکا، فرانسه، چین و روسیه) به همراه آلمان، در نیویارک گرد می آیند و درباره راهکرد آینده در قبال ایران تصمیم می گیرند.



بازداشت ۳ تن...

در یک ماه اخیر شاهد افزایش خشونت های بیشمار ی بود که در نتیجه حملات مشترک نیروهای یاد شده بیشتر از صد تن از افراد که وابسته با طالبان خوانده میشوند کشته شدند. این در حالیست که برخی منابع خبری گزارش داده بودند که بیشتر افراد که در وزیرستان از سوی نیروهای پاکستانی تاکنون به قتل رسیده اند هیچ رابطه با طالبان و القاعده نداشته و از افراد ملکی مناطق بوده اند.

نیروهای خارجی توانایی...

که به جرایم و جنایات جنگی متهم هستند. مولوی ثناء الله عابد که رهبری بیشتر از دوصد تن جنجگویان طالب را در ولایت هلمند به عهده دارد به تلویزیون طلوع گفت که نیروهای خارجی در افغانستان به نفع کشور و دین ما کار نمیکنند و با امدن این نیروها شماری از کسانی به قدرت رسیدند که در قتل و ابرو ریزی هزاران تن افغان دست داشتند. ثناء الله عابد درین مورد به طور مشخص از اقای جنرال عبدالرشیددوستم و کریم خلیلی معاون ریاست جمهوری نام گرفت. اقای دوستم چندی قبل امادگی خود را به جنگ علیه نیروهای طالبان و القاعده اظهار نموده بودند. در حال حاضر بیشتر از ۳۵۰۰۰ نیروهای امریکایی و ناتو بمنظور تامین امنیت در افغانستان بسر میبرند وشماری از ین نیروها مصروف پروژه های اعمار مجدد درنقاط مختلف کشور هستند.

دوه طالبان ...

دیوامنیتی چارواکی په وینا پیښه دغور غوری دلارام د لاړې په اوږدو کې رامنځته شوی ده.

پروان کې میږه خپله ښځه ووژله

په پروان ولایت کې یو تن وروسته له هغې، چې خپله ښځه یې ووژله خان یې هم وواژه. ویل کیږي دغه ښځه د پاملرنې موسسې کارکوونکې او له میږه سره یې پر کورنیو مسایلو شخړه راغلې وه. د شخړې په ترڅ کې یې، چې کله خاونده وپوهیده، چې میږمن یې مرګوني حال ده د خان په وژلو یې هم لاس پورې کړ، سړی روغتون ته تر رسیدو مخکې مړ شو. د پروان جنایي مدیریت له پیښې ناخبري ښودلې ده.

په خوست کې...

له امله یې دسپکو او درنو وسلو او مهماتو یو لوی زیر متون کشف او تر لاسته کړی دی. دخوست دامنیی قوماندان مل پاسوال محمد ایوب ووېل دغه زیر متون دحزب اسلامی د یوه پخوانی قوماندان قادر خان پورې تړاو درلود. ده وویل ددغه زیرمتون څخه ۱۸ بکسه دهوان مرمی. 215 فیره دبی پس لګد توپ ګولی. ۱۰۱ فیر د BM12 میزایل ګولی د اګیس ۱۲ بکسې مرمی. دسپکو ماشیندارو 4 بکسه مرمی او یوه زیاته اندازه چاودیدونکی توکې تر لاسه شوی دی. ده دا هم وویل چې دپیښې سره د تړاو یو کس هم نبول شوی دی چې دا مهال د پولیسو لخوا تر پوښتنې ګرویګنې کیږي.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

قیمت یک شماره ۳ افغانی